بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سر یال نمبر: 503

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# په ټولنیزو رسنیو کې د خوارجو سره منسلک جعلي تبلیغاتي ویډیوګانو او اصل حقیقت

په دې ورستیو کې دخیبرپښتونخوا په بیلا بیلو سیمو کې ټي ټي پي له زیات زیان سره مخ دي چې پکې دیو شمیر مهمو مشرانو پشمول په سلګونو تندلاري وژل شوي اؤ ګڼ شمیر ترهګر پټ دي۔

په دې سختو حالاتو کې، ټي ټي پي خپل ټول پام په غلطو او پخوانیو پروپاګند ویډیوګانو باندې متمرکز کړی چې د وېرې فضا رامنځته کي او د پاکستان ضد قوتونو څخه پیسی اخلي. د دې ویډیو اصلي حقیقتونه په لاندې ډول دي:

- د افغانستان په خاوره کې په جوړو شویو ویډیوګانو کې ترهګرو د نقل و حرکت په ښودلو سره هڅه کیږي چې دا تاثر ورکړي چې ترهګر د پاکستان په سیمو کې ازاد ګرځي۔
- د ضرب عضب عملیاتو په ترځ کې د شوال او نورو سیمو څخه افغانستان ته د بزدله ترهګرو د تېښتې ویډیوګانې دا مهال ښودل کیږي چې د پاکستان په لور حرکت کوي۔
- د مختلفو زړو ویډیوګانو د برخو په ویشلو سره یوه ناکامه هڅه کیږي چې د ترهګرو لوی شمیر وښیي، په حقیقت کې خوارج په پټه ګرزي۔
- خوارج په پټه توګه په مختلفو سیمو کې د خپلو بهتو له لارې ویډیوګانې جوړوي او په دې سیمو کې د خوارجو د شتون دروغجنه واویله کوي۔

پاکستانی ولس دی خوارجو ته پیغام ورکوی چې:

- که خوارج د مقابلې جرأت لری، نو له فلمي نړۍ څخه دی راووځي او په حقیقت کې له امنیتي ځواکونو سره مخامخ شي، انشاالله د دوی د مړو ملګرو په څېر به د دوی ځای هم دوزخ وي۔
- ولس ده دې منافقو او فاسقو خوارجو په پروپاګند ونه غولیږي او د دې پر ځای چې له داسې جعلي ویډیوګانو وېریدلو په ځای د امنیتي ادارو تر څنګ ودریږي۔

دا د خلکو مسوولیت دی چې دا دروغ او فریب رد کړي او د خوارج د دې ناکامې هڅې په اړه نږدې نظامي او پولیس چارواکو ته خبر ورکړي تر څو د پاتشونکي سهولتکاران ژر تر ژره له منځه یوړل شي۔

مورخه: ۱ اپریل ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk